# د پښتو

## د زده‌کړې اساسي قابلیتونه



پنځم ټولګی

# بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## سریزه

دا کتاب د ښوونکي له دری، پښتو او ریاضی د مؤخذ کتابونو د سلسلی څخه یو کتاب دی کوم چې په ۱۹۹۹ کال د تجربه کارو افغانی تعلیم یافته پوهانو د یوی ډلی پواسطه ترتیب شوی تر څو له ښوونکو سره د لازمی قابلیتونو په زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي کوم چې د لومړنیو تعلیماتو پروګرام په تدریس کې ضروری دي. دا مواد د ډول ډول موادي منابعو په اساس په خاص ډول د موجوده افغانی لومړنیو درسی کتابونو څخه ترتیب شوی دي.

دا انکشافی کتابونه په لاندې ډول ترتیب شوی دي.

- پدی برخه کی شپږ کتابونه (د اول تر شپږم ټولګی پوری) موجود دي چې هر یو یې د یو ټولګی لپاره دی.
- هر کتاب یې د ژبی د قابلیتونو په یو لست مشتمل دي چی دا قابلیتونه د مربوط ټولګی د سویی ښکارندوی دی، او ښوونکی سره په دی هکله مرسته کوی چې کوم لازمی قابلیتونه باید تدریس شي.
- د لومړی ټولګی لپاره قابلیتونه عبارت دي له د لوستلو آمادګی، د مهارتونو زده کول، او د لیکلو مهارتونه (انشأ).
- دوهم نه تر شپږم ټولګي پوري قابلیتونه عبارت دي له:

اوریدل او لوستل، لغات، د مفاهیمو درک کول، گرامری جوړښتونه، املأ او انشأ.

- د پنځم او شپږم ټولگیو لپاره د مطالعی مهارتونه اضافه شویدي.

په لست کې ذکر شوو قابلیتونو هر یو په خاصو لساني مهارتونو تقسیم شوی دي تر څو چې د ماشومانو مختلفو سویو انکشاف ته ځواب ووایي. د ښوونکی سره په پوهه کې مرسته کوی چې کوم مشخص لسانی انکشافی مهارتونه ضروری دي چې باید په هر ټولگی کې وښودل شي.

د هر ټولگی کتاب د هغه لسانی انکشافی مهارتونو مثالونه وړاندی کوي چې سرته رسول یې په یو خاص ټولگی کې ضروری دي.

- دا مثالونه په لومړی ټولگی کښې د تورو، کلمو او لندو متنونو په باره کې دي.

- د دوهم ټولگی څخه تر شپږم ټولگیو پوری مثالونه په لاندی ډول ترتیب شوی دي:

**د مفاهیمو درک:**

کم لوسته متنونه د مفاهیمو د درک د سوالونو سره چې د اورېدلو او لوستلو مهارتونه د مفاهېمو د درک په اړوند وازمايي.

**گرامری جوړښتونه:**

گرامری جوړښتونه د تمرینونو هغه مثالونه وړاندی کوي چې تدریس یې د هر ټولګی په سویه ضروری دی.

**املا ٔ:**

د املا ٔ د خاصو مقرراتو او قوانینو هغه مثالونه وړاندی کوی چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږي.

**انشأ:**

- د لیک د تمرینونو مثالونه وړاندی کوې چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږی.

دا مثالونه ښوونکي سره په لاندی ډول مرسته کوي:

- دا امر یقینی کوی چی ټول ښوونکی مربوط مهارت په یو ډول استعمالوی .

- ښوونکي کولای شی چی دا مثالونه د دی لپاره چی آیا زده کوونکي مربوط مهارت زده کړی ده یا نه؟ استعمال کړی.

- ښوونکی کولای شی چی د دغه مثالونه په شان نور تمرینونه زده کوونکی لپاره جوړ کړی.

دا مؤخذ کتابونه نه یوازی د ښوونکو د استعمال له پاره دی بلکه د ښوونکو روزونکی هم ورڅخه استفاده کولای شی. چی د دې کتابونه

ځخه د زده کوونکی د پوهی د آزموینی د پاره هم کار واخلی تر ځو
چې د زده کوونکی مهارتونو ته انکشاف ورکړای شي.
ښوونکی کوولای شی چه اضافی مثالونه د تمرینونه له مخی جوړ کړی.

مفتیش (سوپروایزر) د دی لپاره مثالونه استعمالولای شی، چې معلوم کړی ماشومان په لسان کی لازمی قابلیتونه زده کړی دی یا نه؟
ترتیب کوونکی پدی هیله دی چی ټول افغانی ښوونکی به ذکر شوی مواد (کتابونه) له ماشومانو سره د کار کولو په برخه کی مفید او ګټور ومومی.

## دا کتابونه د لاندېني موسسو په ګډون ترتيب شوی دي:

| | | |
|---|---|---|
| OI/HEP | Ockenden International | |
| | Hangu Education Program | د هنګو د ښوونې او روزنې پروګرام |
| UNCHS/ Habitat | United Nation Center for Afghanistan | هبېتات |
| IRC | International Rescue Committee | د ژغورنې نړيواله کميته |
| SCA | Swedish Committee for Afghanistan | د سوېډن کميته د افغانستان دپاره |
| SAB | Solidarite Afghanistan Belgium | د بلجيم سره د همبستګی اداره |
| GTZ-BEFARE | Basic Education for Afghan Refugees | د افغان د مهاجرو لپاره اساسی زده کړی |
| AIL | Afghan Institute of Learning | د افغان آموزشی انيستيتوت |
| CARE | Cooperative Assistance Relief Everywhere | پاملرنه |
| PSD | Partners for Social Development | د اجتماعی ترقی همکاران |
| SCF-US | Save the Children Federation - US | د ماشومانو د حمايې موسسه |
| NAC | Norwegian Afghanistan Committee | ناروی کميته د افغانستان له پاره |
| ECAR | Education Committee for Afghan Refugees | د افغان مهاجرينو د ښوونې او روزنې کميته |

| | | |
|---|---|---|
| AMNA | Creation of the Pilot Schools in Afghanistan | د نمونه يي ښوونځيو تشکيل په افغانستان کي |
| HCI | Human Concern International | د بشرى مرستو بين المللى موسسه |
| Unicef | United Nation Children Fund | يونيسف |
| CCA | Cooperation Center for Afghanistan | متا |
| ASC | Afghanistan Study Center | د افغانستان د مطالعاتو مرکز |
| ISRA | Islamic Relief Agency | د اسرا اسلامى خيريه موسسه |
| | Afghan Teachers and Schools Union in Quetta | د کويټه د افغانى ښونځيو او معلمينو اتحاديه |

## د پښتو د زده کړې اساسي قابلیتونه

## پنځم ټولګی

**د اوریدلو او لوستلو مهارتونه:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د پښتو ژبې د خاصو آوازونو مشخصات یو تر بل سره بیل او استعمال کړي.

**لغات:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- د لغاتو یوه مجموعه چې مشابه آوازونه او مختلفې معناوې ولري سره راټوله کړي.
- د مناسبو کلمو په انتخاب سره لغات په مختلفو قوانینو کې استعمال کړي.

**د مفاهیمو درک:**

ماشوم به وکولای شي چې:

- اساسي مطلب معلوم کړي.
- په یوه کیسه کې خصوصي اوصاف تشریح کړي.
- د کیسې پای پیش بیني کړي.
- د نظریاتو او حقایقو تر منځ فرق وکړي.

**د مطالعی مهارتونه:**

ماشوم به وکولای شی چې:

- موخذ مواد استعمال کړي.
- لغات نامه استعمال کړي.

**گرامری جوړښتونه:**

ماشوم به وکولای شی چې:

- فاعلی اسمونه او ضمایر له مونثو او مذکرو اسمونو سره چې مفرد او جمع شکلونه ولري استعمال کړي.
- د مفعولی اسمونه او ضمایرو مفرد او جمع استعمال کړی.
- اضافی توری استعمال کړي.
- د فاعلی اسمونو او ضمایرو سره حال، ماضی او راتلونکی زمانی استعمال کړي.

**املا ء:**

ماشوم به وکولای شی چې:

- بی قاعدی کلمات په درسته توگه ولیکي.

**انشأ:**

ماشوم به وکولای شی چې:

- کیسه په یوه متن کی خلاصه کړي.
- د لاربښودو سوالونو په استعمال سره په یوه موضوع باندی یو یا دوه پرگرافه ولیکي.
- د لغاتو په مرسته یو یا دوه پرگرافه په یو موضوع باندې ولیکي.

# پنځم ټولګی

## پښتو

## لوستل او د مفهومونو پوهېدل:

### د افغانستان غرونه

مېرولي له خپل پلار سره په موټر کې پکتیا ته روان و . په لاره کې یې هرې خوا ته ښکلي او دنګ غرونه ولیدل . له پلار څخه یې پوښتنه وکړه : « پلاره، زموږ په هېواد کې، څومره ډېر غرونه دي. دا څه ګټه لري؟ »

پلار یې وویل: « زویه، افغانستان یو غرنی هېواد دی. ډېره برخه یې غرونه دي. دې غرونو زموږ وطن ښکلی او ښېراز کړی دی. زموږ د هېواد اقلیم د همدې غرونو پواسطه په زړه پورې دی. په افغانستان کې لوی او واړه غرونه زښته زيات دي ؛ چې ځینې مشهور او جګ غرونه یې دا دي: هندوکش غر ، بابا غر ، سلیمان غر ، سپین غر ، تورغر ، ترکستان تیربند او ځینې نور . »

میرولي بیا پوښتنه وکړه : «دې غرونو خو زموږ ټول وطن ښولی دی؛ دا موږ ته ګټه لري که تاوان؟»

پلار یې وویل : «بچیه، که څه هم دغو غرونو زموږ د هېواد ډېره برخه

سپينو زرو، لاجوردو ، زمردو ، وسپنې، مسو، د ډبرو د سکرو، مالګې او نور ډېر کانونه دي . په دې غرونو کې ځنګلونه هم ډېر دي. په دغو ځنګلونو کې بې میوې او میوه لرونکې ګټورې ونې زیاتې شته.
«پر زیاترو غرونو په ژمي کې واوره ډېره اوري. دغه واورې د اوبو زېرمې دي. په اوړي کې واورې ویلې کېږي او سیندونه ترې بهېږي چې هیواد شېرازه کوي. په دغو غرونو کې ګټور بوټي او ګیاوې هم شنه کېږي. چې داروګان ترې جوړېږي ؛ او خارج ته هم لېږل کېږي. د افغانستان په غرونو او ځنګلونو کې ځناور هم اوسېږي، لکه: زمریان، پړانګان، لېوان، ګیدړان، هوسۍ، ګوزی او داسې نور وحشي ژوي او مرغان هم لکه: زرکان، صحرايي چرګان، سیسۍ او داسې نور پکې پیدا کېږي.»
د میرولي پلار ، په خپلو خبرو کې وویل : «د افغانستان غرونه او څه چې په کې موندل کېږي ، دا د افغانستان د ټولو خلکو ګډ مال دی . باید ټول وساتل شي. په تېره بیا کانونه یې په خپل سر ونه ایستل شي او ځنګلونه یې ونه وهل شي.»
میرولي د خپل پلار خبرې د زړه په غوږ واورېدلې او مننه یې ترې وکړه.

۱- هم معنا کلمې پیدا او په نخښه کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ډېر | کم | لږ | زیات |
| وطن | ښکار | هیواد | کلی |
| برخه | حصه | مځکه | وظیفه |
| ګټه | فایده | تاوان | نقصان |
| ښکلی | ښایسته | بدرنګ | خراب |

۲- د لاندې جملو د نخښه شویو کلمو ضد په چوکاټ کې پیدا کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کم | واړه | بدرنګ | تاوان | بې میوې |

۱- په افغانستان کې لوی او واړه غرونه ښته (زیات) دی. کم

۲- دغو غرونو زموږ وطن (ښکلې) کړی دی. ______

۳- زموږ په وطن کې (لوی) غرونه هم ډېر دي. ______

٤- زموږ د وطن غرونه موږ ته ډیره (ګټه) لري. ______

٥- زموږ د غرونو په ځنګلونو کې (مېوه بې) ونې زیاتې دي. ______

د لاندېنيو جملو تش ځايونه دې په مناسبو کلمو سره ډک شي:

- ميرولي له خپل پلار سره په لاره کې ښکلې او ______ غرونه وليدل.

١- ټيټ ٢- هوار

٣- دنګ ٤- واړه

- ميرولي له خپل پلار سره په موټر کې ________ ته روان و.

١- ننګرهار ٢- لغمان

٣- وردک ٤- پکتيا

- افغانستان يو ______ وطن دی.

١- غرنی ٢- هوار

٣- حاصلخېز ٤- سپېره

# نـوروز

خوږو او ګرانو ماشومانو ! تر هرڅه د مخه تاسې ته د پسرلي د لومړۍ ورځې (نوروز) مبارکي وايم.

پسرلی د کال لومړی فصل دی، د دې فصل په پيلکېدو سره ونې پاڼې کوي. دښتونه ، غرونه او رغونه يو ځل بيا د ژمي له درانه خوبه راويښېږي او له نوېو هيلو سره راځي؛ نو موږ د دې لومړۍ ورځې يعنی د حمل مياشتې لومړۍ ورځ ته (نوروز) وايو او همدغه د نوروز ورځ د نوي کال يا پسرلي د فصل د پيل ورځ ګڼل کېږي. د افغانستان ټول خلک په دې ورځ له وسې سره سم نوي کالي اغوندي ، خوښي کوي، ښه خوندور خواړه خوري او ميلو ته ځي. بزګران نيالګی کښېنوي . دا ورځ د افغانستان په زياترو ولايتونو کې لمانځل کيږي. په تېره بيا د افغانستان له لرې لرې ځايونو څخه مينه وال د مزار شريف ښار ته د دې ورځې د خاصې نمانځنې لپاره په ډېره مينه راځي.

د لاندې کلمو ضد کلمې وليکئ:

| ورځ | شپه |
|---|---|
| پيل | |
| خوب | |
| غر | |
| نوی | |
| خوندور | |
| خوښی | |
| ښه | |

د نوی کال په لومړۍ ورځ کې زمونږ هېوادوال ________

- په کور کې ناست وي
- مېلې کوي
- دفترونو ته ځي

پسرلی د کال ________ فصل دی.

- دويم
- لومړی
- څلورم

د حمل میاشتې لومړۍ ورځ ته ________ وايي.

- اختر
- نوروز
- آزادي

په پسرلي کې خلک ________ .

- د جوارو لوکوي
- نوي نيالګي کښېنوي
- له باغونو مېوې راټولوي

# اشر (پګړه کار)

جهانګیر خان د خپلې درې جریبه مځکې د کرلو لپاره ډېر پرېشانه و، ځکه د کروندې مهال په تېرېدو و او ده مځکه په خپله نه شوه کرلای نو د خپلې ماندینې (تورپېکۍ) سره یې مشوره وکړه. هغې ورته وویل، چې د کلي ځوانان ورته په اشر وغواړه. جهانګیر خان هم د خپلې ماندینې خبره ومنله او د کلي زلمیان یې د جمعې په ورځ د اشر لپاره راوغوښتل. جهانګیر خان نورو زلمیانو سره سهار وختي د مځکې په اړولو پیل وکړ . تر غرمې پورې یې مځکه واړوله، پټي او پولې یې جوړې کړې. تورپېکۍ د غرمې لپاره ښه خوندوره ښوروا پخه کړې وه. زلمیانو ډوډۍ وخوړه او د مازیګر تر لمانځه پورې یې په پټوکې راز راز سابه وکرل. جهانګیر خان د تورپیکۍ له مشورې څخه ډېر خوښ و. ځکه چې د ده ستونزه د زلمو په مرسته له منځه لاړه .

د شپې چې د جهانګیر خان واړه دسترخوان ته کښېناستل، جهانګیر وویل :

«اشر زمونږ یو ډېر ښه دود دی. زه یوازې وم ، مځکه مې نه اړولای شوه او نه کرلای .» زه به پخپله هم د ګاونډیانو په اشرونو کې هرو مرو برخه اخلم.

د هر لغت مناسبه معنا پيدا او کرښه ترې تاوه کړئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| مهبال: | (وخت) | کال | پرون |
| زلمی: | وړوکی | ځوان | سپين ږيری |
| خوندوره: | خوږه | بې خونده | ترخه |
| خوښ: | خفه | خوشحاله | گېله من |

لاندې جمله په مناسبه کلمه سره بشپړه کړئ.

جهانگير خان د کلي زلميان د جمعې په ورځ ______ ته راوغوښتل:

خيرات

واده

اشر

# متلونه

متلونه هغه پراخه مفهوم لرونکې، لنډې او په وزن برابرې وېناوې دي چې د يوې خبرې د ټېنګار او ښکلا لپاره په خبرو اترو کې وړل کيږي او د ټولنې د تجربو زيږنده وي. په متل سره د يوې ټولنې فکرونه او دودونه له يوه نسله څخه بل او له يوه ولس څخه بل ولس ته لېږدول کيږي او د خبرو ښکلا پرې زياتيږي او پر مخاطب لوري سمدستي اغېزه کوي.

## { څه چې کرې هغه به رېبې }

نړۍ د پټي مثال لري او د انسان ټولې چارې او کړه وړه د تخم په څېر دي. انسان چې په دنيا کې هر څه کوي او هره چاره چې سرته رسوي ارومرو به د خپلو کړو مېوه او حاصل لاس ته راوړي، که يې ښه کړي وي، نو ښه به ترې اخلي او که يې بد کړي وي نو حاصل به يې ناوړه او خراب وي.

د هرې کلمې هم معنا کلمې د چوکاټ څخه تشو ځايونو کې وليکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښايست | منلو | دليل | ښه |

ښکلا - متلونه د خبرو د ـــــ لپاره هم استعماليږي.

نېک - که انسان ښه کار وکړي؟ نو لاسته راوړنه به يې ـــــ وي.

تأييد - د متل په ويلو سره خبره د ـــــ وړ ګرځي.

استدلال - متلونه د خبرو په منځ کې د ـــــ د تأييد لپاره وړل کيږي.

د جملو په تشو ځایونو کې له لاندېنیو دریو کلمو څخه مناسبه کلمه ولیکئ.

ـــــــ پراخه معناوې لري، لنډې او په تول برابرې ویناوې دي چې د دلیل د منلو لپاره په خبرو اترو کې ویل کیږي .

| |
|---|
| متلونه، کیسې، غزلې |

که انسان ښه وکړي نو حاصل په یې ـــــــ وي.

| |
|---|
| بد، نیک، خراب |

د دنیا مثال د پټي او د انسان ټول اعمال او کارونه د ـــــــ په څېر دي.

| |
|---|
| خاوره، گیاه، تخم |

# د پښتو ژبې الفبا

د پښتو ژبه د الفبا څلوېښت توري لري چې دا دي :

ا - ب - پ - ت - ټ - ج - چ - خ - څ - ځ - د - ډ -

ر - ړ - ز - ژ - ږ - س - ش - ښ - ک - ګ - ل - م

- ن - ڼ - و - ه - ی

په دغو تورو کې ۲۲ توري د پښتو او فارسی تر منځ ګډ دي او نور اته

توري یوازې په پښتو کې راځي چې هغه دا دي :

ټ ډ ړ ځ څ ږ ښ ڼ

په دغو دېرشو تورو کې ۲۶ توري چپ او څلور کومکي توري دي.

په پښتو کې د عربي ژبې دغه یولس توري هم په مستعار ډول استعمالېږی:

ث ح ذ ص ض ط ظ ع غ ف ق

خو د پښتو په کلمو کې راځي او که په کومه کلمه کې راشي نو هغه اصلاً

پښتو نه وي.

د پښتو د الفبا مثالونه په کلمو کې:

اس، باغ، پلار، توت، ټولګي، جامې، څوک، څراغ، ختکی، مځکه، دېوال،

ډوډی، ړوند، زنه، زلمی، سترګه، شپه ، ښځه ، کور ، او داسی نور.

د لاندې لغتونو هم معنا کلمې په تشو ځايونو کې وليکئ:

| خاص ، ګډ ، کانسوننټ ، واول |
|---|

شريک : ۲۲ توري د پښتو او فارسي تر منځ _____ دي.

خپل : د پښتو _____ توري اته دي

چپ : د پښتو الفبا ۲۶ توري لري.

کومکي: په پښتو ژبه کې څلور توري _____ بلل کيږي.

د هرې پوښتنې له پاره درې ځوابونه دي. سم ځواب يې په (√) علامه وښاياست:

په پښتو کې ټول مستعمل توري څو دي؟ (۲۰، ۳۰ ، ٤۰)

د پښتو او درې تر منځ ګډ توري څو دي؟ (۲۰، ۲۸ ۲۲)

د پښتو په الفبا کې چپ توری څو دي؟ (۲۵، ۲۸ ، ۲۱)

د پښتو الفبا کومکي توري څو دي؟ (درې، څلور ، دوه)

د عربي څو توري په پښتو کې استعماليږی؟ (پنځه، اته، پولس)

# د چينې غاړه

چينې ته ځم را پسې راشه - زه به منگی په لپو ورو ورو ډکومه.

زموږ په وطن کې الله پاک په چينو کې ډېر برکت اچولی دی. د چينو اوبه په اوړي کې سړې او په ژمي کې تودې دي.

زموږ خلک د څښاک د پاره د چينې اوبه استعمالوي. توريېکۍ او نجيبه د خپلو ملگرو سره د څښلو اوبو د راوړلو د پاره چينې ته روانې وي. په لاره کې د بر کلي غوټۍ او زرغونه هم ورسره ملگرې شوې. غوټۍ ، نجيبې ته د کوزدې مبارکي ورکړه او خپله خوښي يې پرې ښکاره کړه ، خو شرېني يې هم ترې وغوښته.

نجيبې ، غوټۍ ته ووېل: «ته ، زرغونه او د کلي نورې جنکېانې به د زيارت په ورغ غرمه د شرېنۍ په نوم ډوډۍ لپاره زموږ کورته راشی. خو گوره چې دريا دې هيره نشي». غوټۍ ورته ووېل: «دريا به زه د څادر لاندې راوړم. خو توريېکۍ به سندرې وايي او ته به اتنونه کوی.»

لاندي کلمو ته ضد کلمې ولیکئ:

سړی: ______

شرین: ______

ورځ: ______

هېر: ______

په لاندېنیو سوالونو کې هر سوال ته درې ځوابونه درکړل شوي. سم ځواب یې په (√ ) نخښه وښایاست.

مور د څښلو اوبه د کوم ځاي څخه راوړو؟

-- سیند -- دریا -- چېنې

تورپیکۍ او نجیبه د منگیو سره چېرې تللې؟

-- چېنې -- درباب -- ویالی

غوټۍ، نجیبې ته د څه شی مبارکي وویله؟

-- د زوی -- کوژدی -- واده

# شعر

بوه ورځ چېرې په لاره تېرېدم زه

ناڅاپي د ونې لاندې ودریدم زه

دوه مرغۍ شوې پاس پهٔ ونه کې په جنګ

دواړه غوندې کلوله شوې په دا رنګ

د غونډوسکي غونډې لاندې ولوېدلې

پېشو توپ کړ دواړه یې غبرګې ونیولې

چغ و پغ شور او فریاد یې وکړ ډېر

ولې څه کېده چې وخت و ځینې تېر

نفاق دواړه د بلا په خوله کې ورکړې

غلېم دواړه رېز مرېز ، زبر او زبر کړې

که څوک کاندي اختلاف له خپله وروره

له دښمنه به پامال شي له ضروره

فرض کړه دا چې همېشه دښمن تیار دی

د فرصت او د موقع په انتظار دی

د هر لغت په مقابل کې هم معنا کلمې ولیکئ.

ریز مریز: ________

چغ و پغ: ________

غونډوسکی: ________

کلوله: ________

غلیم: ________

غبرگې: ________

د هر سوال سم ځواب په ( √ ) وښایاست.

دوه مرغۍ چېرې په جنگ شوې؟

_ د مځکی پر مخ _ په هوا کې _ په ونه کې

پېشو څه وکړل ؟

_ موږکان یې ونیول _ شیدې یې وچښلې _ مرغۍ یې ونیولې

مرغیو د کوم شي په خوله کې چغ و پغ وکړ؟

_ د مار په خوله کې _ د پېشو په خوله کې _ د سپي په خوله کې

مرغۍ د بلا په خوله کې څه شي ورکړې؟

_ بې پروایې _ نفاق _ خوب

# گل پاچا الفت

گل پاچا الفت د میر سید پاچا زوی په ۱۲۸۷ لمریز هجري کال د لغمان د قرغیو د ولسوالۍ په عزیز خان کڅ کې زیږیدلي و، دی یو عالم او فاضل انسان و . د خپل وخت علمونه یې حاصل کړي وو. لکه څنګه چې الفت صاحب د زده کړې په دوران کې ډېر ذکي او هوښیار و نو پر استاذانو ډېر ګران و .

ده کلونه د هیواد په علمي او فرهنګي ټولنو کې کار کړی دی. ډېر ښه شاعر او لیکونکې و ، په لسګونو کتابونه یې لیکلي دي . «غوره نثرونه» او «غوره اشعار» یې مشهور کتابونه دي. الفت موږ ته بلنه راکوي چې علم زده کړو او عمل وربانديې وکړو . دی وایي : چې یې عمله علم د غلطې پوهې مثال لري او غلطه پوهه له انسان څخه شیطان جوړوي.

د یــوه وطن اولاد یـــو    تېر له سره په هېواد یو

د افغان په نامه یاد یو    بختور یو چې آزاد یو

دا وطن دی په موږ ګران

دا وطن دی د افغان

د هر لغت سمه معنا د ورکړ شوو معناوو څخه وټاکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| عالم: | پوه | ناپوه | مینه |
| الفت: | کرکه | مینه | هوښیار |
| حاصل: | په لاس راوړل | د لاسه وتل | بايلل |
| فاضل: | عالم | بی علم | کاتب |
| ذکی: | نالايق | تنبل | لايق |

د جملو په تشو ځايونو کې له لاندېنيو دريو کلمو څخه مناسبه کلمه وليکئ.

______ یو عالم او فاضل انسان و په لسگونو کتابونه ئی لیکلي دي:

___ میر سید پاچا

___ الفت

___ گل اکبر

الفت صاحب یو ښه ______ او لیکوال و.

___ ډاکټر

___ انجنیر

___ شاعر

د الفت صاحب ______ مشهور کتابونه دي.

___ ادب تاریخ

___ گونډ نجلی

___ غوره نثرونه او غوره اشعار

# د کنړ سیند

د کنړ سیند د هندوکش له غرونو څخه سرچینه اخلي. د چترال له خوا د بریکوټ په سیمه کې کنړ ته داخلیږي او له دې ځایه د شیګل او اسمار پر لاره د دنګو غرونو په مینځ کې له اسعد آباد څخه تیر او مخ پر جلال آباد بهیږي. دې سیند سره د کامدیش او پیچ درې سیندونه هم یو ځای شوي دي. د کنړ د زراعتي ځمکو پر خړوبولو سربیره کنړ ته ځانګړی ښکلا وربخښلې ده.

په دی سیند کې ډول ډول کبان او په شګو کې یې د سرو او سپینو زرو ذرې شته، چې ډلې ډلې ښکاریان د کبانو نیولو او زرکشان د زرو په راغنډوولو پسې ورځي.

دا سیند د برښنا د تولید او د ځمکو د خړوبولو لپاره ډېرې اوبه او د بندونو جوړولو لپاره مناسب ځایونه لری.

د لاندېنیو لغتونو هم معنا کلمې د چوکاټ څخه د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ .

| ښایست | ماهیان | اوبه کوی | شروع |
|---|---|---|---|

پیل -- د کنړ سیند هندوکش له غرو څخه ______ کیږي.

کبان -- د کنړ سیند ډېر ______ لري.

خړوبوي -- د کنړ سیند ډېره زراعتي ځمکه ______.

ښکلا -- د کنړ سیند د کنړ ولایت ته زیات ______ ورکړي.

د لاندې جملو په تشو ځايونو کې د درې ورکړ شوو ځوابونو څخه درست ځواب وليکئ.

د کنړ ولايت ته زياته ښکلا ________ ورکړېده.

د عالېنګار سيند، د عاليشنګ سيند، د کنړ سيند

د کنړ سيند ډېرې زياتې زراعتي ځمکې _____ کړېدی.

آبادې ، وچې کړی ، خړوبې

د کنړ سيند د ______ سرچينه اخلي.

بابا غر، هندوکش غر، سپين غر

# د حج سفر

حج د اسلام د مبارک دین پنځمه بنا ده، د شاولي پلار سږ کال حج ته تللی و. هغه د حج د مقدسې فریضې تر ادا کولو وروسته تیره ورځ بېرته کورته راورسید. د کلي ټول خلک د هغه ستړي مشي او مبارکۍ ته ورتلل . خلکو به چې به د حاجي صاحب راوړي کمره کې کتل نو له هغه څخه به یي پوښتنې کولې .

هغه د حج د سفر په باب داسې وویل :

سږ کال د نړۍ د گوټ گوټ څخه د تیر کال په نسبت ډېر مسلمانان حج ته راغلي و. عربو ، عجمو تورو او سپینو یو شان احرامونه تړلي و. هر یوه به تلبیه ویله. حاجیان ټول په شریکه د بیت الله شریف طوافونه کوي. عرفات ، منا او مدینې ته ځي. صفا او مروا تر مینځ سعیه کوي او جمرې (شیطان) په کاڼو ولي.

چې په مکه معظمه کې له حج کول خلاص شي. بیا مدینې منورې ته ځي. هلته د پیغمبر(ص) د مبارکې روضې او نورو سپېڅلو ځایونو زیارت او لیدنه کوي. او له هغه ځایه بیا جدې ته ځي.

حج د مسلمانانو د وحدت ایثار او قرباني بېلگه ده.

مونږ په مسجد حرام او مسجد نبوي کې د اسلام او مسلمانانو د ترقۍ ، وحدت، یووالي او په خوږ وطن افغانستان کې د سولې او شرعي نظام د ټېنگښت له پاره دعاگانې وغوښتې.

د لاندې جملو په تشو ځايونو کې د ورکړ شويو کلمو ضد د چوکاټ څخه وليکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ګډوډي | ولاړ | کورکې | جنګ |

نظام - ځينې خلک شرعي نظام غواړي او ځنې په ______ کې خپلې ګټې لټوي.

سوله - حج د وحدت پيغام دی نه د ______.

سفر - څوک د حج لپاره وتلی او څوک په _____ ناست دي.

سعيه - حاجيان د صفا او مروا تر مينځ منډې وهي او څوک _____ وي.

د لاندې جملو په تشو ځايونو کې د ورکړ شويو کلمو د چوکاټ څخه وليکئ.

د بيت الله شريف حج د مسلمانانو د _____ او يووالي علامه ده.

| |
|---|
| عبارت ، وحدت ، ثروت |

حج د اسلام د مبارک دين ______ ده ،

| |
|---|
| رواج ، طريقه ، پنځمه بنا |

حاجيان د حج د کولو لپاره ______ ته ځي.

| |
|---|
| مدينې منورې ، مکې معظمې ، جدې |

حج په مالدار مسلمان باندې ________.

| |
|---|
| سنت ده ، واجب دی ، فرض دی |

# يووالی

يوه زاړه سړي د ځنكدن په وخت كې يو څو غشي وتړل او زامنو ته يې د ماتولو لپاره وركړل. هر يوه دا كوده واخيسته او هر څومره زور يې چې پرې وكړ ماته يې نه كړه او خپله كم زوري يې ومنله، بيا هغه زاړه تجربه كار پخپله د غشو كوده واخيسته او يو يو يې مات كړ او زامنو ته يې وويل : ای زامنو ! ستاسې حال به دغسې وي. كه مو په خپل منځ كې اتحاد او اتفاق در لوده ، هيڅ قوي لاس به پر تاسې بر نه وي او كه مو دښمني او بې اتفاقي وكړه ، د دښمن يو كم زوری لاس به تاسې ماتوي او ستاسې له اختلاف څخه به ګټه اخلي.

په لاندې تشو ځايونو كې د چوكاټ څخه هم معنا كلمې وليكئ !

| |
|---|
| دمرګ په حالت، د پښو لاندې، ګيډۍ، ناتواني، يووالي |

ځنكدن : احمد د ______ په حالت كې و.

پامال : زمونږ د باغ ګلان ماشومانو ______ كړل .

كوده : غوا د جوارو يوه ______ وخوړله .

عجز : زما زوی په پټي كې بوې نه شوه كولای نو خپله ______ يې ومنله.

اتحاد : مونږ هر وخت ______ غواړو.

د هرې پوښتنې سم ځواب په ( √ ) وښایاست :

زاړه سړي له خپلو زامنو څخه څه وغوښتل ؟

-- د غشو د کودې ماتول

-- د غنمو ګیډۍ ماتول

-- د جوارو کودې ماتول

غشي چا یو یو مات کړل ؟

-- زامنو

-- خلکو

-- زاړه سړي

له زامنو څخه د اتحاد او اتفاق غوښتنه چا وکړه ؟

-- کاکا

-- ماما

-- پلار

د دښمن یو کمزوری لاس به تاسې ماتوي.

-- که بې اتفاقه وئ

-- که ویده وئ

-- که مصروف وئ

# سید جمال الدین افغان

سید جمال الدین افغان د سید صفدر زوی او د سېد علي لمسی دي په ۱۲۵۶هـ ق کال د کنړ ولایت د سیدانو په یوه دینداره کورنۍ کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړه یې له خپل پلار څخه وکړه او بیا د نورو زده کړو له پاره کابل ته لاړ په ۱۸ کلنۍ کې د لوړو زده کړو له پاره هند ته سفر وکړ. له هنده حج ته ولاړ او بیا هېواد ته راستون شو .

نوموړی ډېر لوي عالم و او د افغانستان له مشهورو خلکو څخه و.

نړیوال یې د شرق نابغه بولي . سید په افغانستان کې د رسمې ښوونې او روزنې بنسټ ایښودونکی دی. هغه هېواد او دین ته ستر خدمتونه کړي دي.

اروپا او غربی نړۍ ته یې هم سفرونه وکړل.

نېچریه او تتمةالبیان فی التاریخ الافغان یې مشهور تألیفات دي.

سېد جمال الدین افغان په ۱۲۷۶لمریز کال په ترکیه کې وفات او هلته دفن شو. خو بیا په ۱۳۲۳لمریز کال کې یې تابوت کابل ته راوړل شو. او د کابل پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شو.

د چوکاټ له کلمو نه د جملو تش ځایونه ډک کړئ.

| پوه | بنیاد | تولد | مړ گنې |
|---|---|---|---|

زیږیدلي : سید جمال الدین په کنړ کې ـــــــ شوی دی.

عالم : سید جمال الدین ډیر ـــــ او مشهور سړی و.

بنسټ : په افغانستان کې د رسمی زده کړې ـــــ ایښودونکی دی.

وفات : سید جمال الدین په ترکیه کې ـــــــ شو.

بولي : نړیوال یې د شرق نابغه ـــــــــــ

د جملو په تشو ځایو کې له درکړ شویو دریو کلمو څخه یوه مناسبه کلمه ولیکئ.

سید جمال الدین افغان ډیر لوی ـــــــــ و .

(سوداگر عالم شتمن)

سید جمال الدین په افغانستان کې د ـــــــ مؤسس دی.

(د مخابراتو، د صحی چارو، د رسمي ښوونې او روزنې)

سید جمال الدین په ترکیه کې ـــــــــ شو.

(ډاکترشو، وفات، امام)

# د افغانستان کانونه

زموږ ګران هېواد افغانستان ډېر زيات کانونه او تر مځکې لاندې زېرمې لري.

لکه: د مسو، اوسپنې، سرو زرو ، زينتي کاڼو ، مالګې او ډبرو سکرو کانونه،

د تېلو او ګاز زېرمې يې د يادولو وړ دي.

له زينتي کاڼو څخه لاجورد په بدخشان ، سره ياقوت په جګدلې ، زمرود په

پنجشير او ښکلي کوسېټ د پېچ درې او نورستان په کانونو کې پيدا کېږي.

مس د لوګر په عينک او در بند کې موندل کېږي. د حاجي ګګ د اوسپنې

کان د نړۍ دريمه درجه کان بلل کېږي چې زموږ د هېواد لپاره ځانګړې ارزښت

لري. پر دې سر بېره سره زر د مقر په زرکشان او رخام په هلمند کې شته.

زموږ ګران هېواد افغانستان د تېلو او ګازو زېرمې هم لري ، چې په شبرغان

کې دي .

د مالګې او ډبرو سکرو کانونه د هېواد په مرکزي برخه کې پيدا کيږي.

يورانيوم چې د اتومي انرژي لپاره خام مواد او د هستوي وسلو په جوړولو کې

ترې کار اخستل کېږي ، زموږ په هېواد کې شته.

دغه کانونه او زېرمې زموږ د ټولو خلکو ګډې شتمنۍ او طبيعي منابع دي چې

بايد ساتنه يې وشي.

له ورکړ شویو کلمو ضد د چوکاټ نه د جملو په تشو ځایونو کې ولیکئ!

| | | |
|---|---|---|
| خاوره | ورک | بی ارزښته |

موندل : زمونږ مسین دېگ ______ شو.

ډېرې : تېرې او ______ د کورونو په جوړولو کې پکارېږي.

اهمیت: ځینی کارونه ارزښتناک او ځینې ______ وي.

هم معنا کلمې د چوکاټ څخه د جملو په تشو ځایونو کي ولیکئ!

| | | | |
|---|---|---|---|
| وطن | معدن | مدارک | زیرمې |

ذخیرې: زمونږ هېواد د ګازو او تېلو ______ لري.

کان: د افغانستان د اوسپنی مشهور ______ حاجي ګک دی.

هېواد: د ______ ملي شتمني ساتل غواړي.

منابع: کانونه زمونږ د هېواد د اقتصاد لوی ______ لري.

# مورې!

موري چې خدای له تا پېدا کړمه — ګران یې له هر چا نه پر تا کړمه
په ژبه پوه نه وم، په مینه پوه شوم — پوه دې په لفظو په معنا کړمه
ورو ورو، دې راوستم خبرو باندې — راغلی ګونګ وم تا ګویا کړمه
خوب به دې نه و، تر سهاره پورې — چې لږ څه درد به په ژړا کړمه
رب مې دی خدای، او مربي مې ته يې — پیدا کړم خدای ، تا توانا کړمه
درس ته لېږلم تا په څه زاریو — په څه خواریو دې ملا کړمه
ستا احسانونه بې حسابه دي — ستا کوم یو حق به زه ادا کړمه

نورو ته لوی تاته وړوکی ښیم
ځان به وړوکی درته بیا کړمه

د جملو تش ځایونه د چوکاټ په هم معنا کلمو سره ډک کړئ؟

| غښتلی، | ننواتو، | ښېګړې، | محبت |
|---|---|---|---|

توانا: مورې! پیدا کړم خدای او ________ تا کړمه.

مینه: مورې! د خبرو کولو نه وم خو په ________ تا پوه کړم.

زاریو: مورې! درس ته به دې په څه ________ لیږلم.

احسانونه: مورې! ستا ډیر او بې حسابه ________ پر ما دي.

د هرې جملې په تش ځای کې له درکړ شویو دوو کلمو څخه مناسبه کلمه ولیکئ.

______ ډېره مهربانه او د انساني نړۍ روزونکې ده.

(مور، ترور)

مور په رنځونو او ستونزو کې تر ټولو نه زیاته ______ وي.

(بې پروا، خواخوږې)

د مور ______ احسانونه پر اولاد وي.

(بی حسابه، لږ)

# پنځم ټولګي

## پښتو

### ګرامري جوړښتونه :

د لاندېنيو کلمو جمعې وليکئ:

| مفرد | جمع |
| --- | --- |
| مثال: غر | غرونه |
| ۱- پلار | ________ |
| ۲- وطن | ________ |
| ۳- مېوه | ________ |
| ٤- لېوه | ________ |
| ٥- زمری | ________ |

د لاندېنيو مذکرو نومونو مؤنث شکلونه وليکئ:

| مذکر | مؤنث |
| --- | --- |
| مثال: زمری | زمرۍ |
| ۱- ګيدړ | ________ |
| ۲- زوی | ________ |
| ۳- ګور | ________ |
| ٤- زرک | ________ |
| ٥- چرګ | ________ |

له نومونو موصوف سره صفتونه ليکل شوي تاسې موصوف ته مناسب صفتونه وليکئ.

١- دنګ غرونه ______ دنګې ونې

٢- غرنی وطن ______ مځکه

٣- واړه غرونه ______ غر

٤- ښکلې هېواد ______ دښته

٥- شنه مځکه ______ سيند

لاندې لغتونه د جملو په مناسبو ځايونو کې وليکئ .

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| لومړی | نوي | ګرانو | درانه | خوندور |

ټول ژوی په ژمي کې په ______ خوب ويده وي.

پسرلی د کال ______ فصل دی.

د نوروز په ورځ زياتره ماشومان ______ کالي اغوندي.

______ ماشومانو تاسوته د پسرلي د راتلو زېرى درکوم.

د نوروز په ورځ زموږ هېوادوال ښه ______ خواړه خوري.

په چوکاټ کې درکړ شوي مؤنث او مذکر نومونه په پام کې ونیسئ او د لاندې جملو په پای کې مناسب فعلونه ولیکئ.

| |
|---|
| باغ، توت، ځراغ، ختکی، دېوال، ډوډی، ړوند، |
| زنه، ژبه، ږلی، سترګه، شپه، ښځه، کور، کوټه |

دا کوټه وړه ______.

دا کور لوی ______.

دا ښځه د محمود مور ______.

نن شپه یخه ______.

د محمد یونس سترګه ړنده ______.

په خوست کې ږلی اوریدلې ______.

زما مورنی ژبه پښتو ______.

د نجیبی پر زنه دانه ______.

دا هلک ړوند ______.

وچه ډوډی توده ______.

دا دیوال لوړ ______.

دا ختکی خوږ ______.

دا ځراغ ښکلی ______.

دا توت وچ ______.

دا باغ وړوکی ______.

ورکړل شویو قیدونه د جملې په تشو په ځایونو کې ولیکئ.

| |
|---|
| ورو ورو، سهار، زاربو، شپې |

ګرانی مورې ______ په خبرو تا راوستم، درس ته به دې په ______ لیږلم. او چې د ______ به درد په ژړا کړم، نو تر ______ پوری به دې خوب نه و. ګرانې مور جانې! زه به ستا کوم حق زر ادا کړم. فقط ستا د بخښنې هیله من یم.

د لاندېنیو جملو په تشو ځایو کې د چوکاټ مناسبې کلمې ولیکئ.

| |
|---|
| زینتي، سره، ښکلي، طبیعی، ګران، زیات |

______ زر په زرکشان کې پیدا کیږي.

ډیر ښه او ښکلي ______ کاڼي د پیچ درې او نورستان په کانونو کې وي.

کانونه زموږ د هېواد د اقتصاد د پیاوړتیا ______ منابع دي.

زموږ ______ هیواد افغانستان د مور حیثیت لري.

زموږ هیواد ______ کانونه لري.

______ کوسیت، بیریج او بیریل د پیچ دری په کانونو کې میندل کیږي.

د مفرد کلمو په جمع د جملو تش ځایونه ډک کړئ.

کان - ______ ملي شتمني ده.

کانې - زموږ وطن زینتي ______ لري.

ډبره - د ______ سکاره سونگ کې استعمالیږي.

زر - له سرو ______ څخه گانې جوړیږی.

زیرمه - زموږ په هیواد کې د تیلو او گازو ______ شته.

هیواد - ډیر ______ کانونه لري.

سکور - د ډبرو ______ ډیر استعمال شته.

د لاندی جملو په خالی ځایونو کې د درې ورکړل شویو کلمو څخه مناسبه کلمه ولیکئ.

زمونږ گران ______ افغانستان ډیر کانونه لری.

(هیواد ، حیواد ، هیواد)

افغانستان د تیلو او گاز ______ لری،

(زیرمی، ذیلمې، ځیرمې)

د ډبرو ______ کانونه د هیواد په مرکزی برخه کې پیدا کیږي.

(سه کاره، سکارو ،سکرو)

د لاندې جملو په تشو ځایو کې د چوکاټ څخه مناسبې کلمې ولیکئ.

| دینداره، مهربان، نابغه، مشهور، لویو |
|---|

نړیوال سید جمال الدین افغان د شرق ______ بولي.

سید جمال الدین ډیر ______ عالم وه.

سید جمال الدین د سیدانو په یوه ______ کورنۍ کې زیږیدلی دی.

سید جماالدین له ډیرو ______ کسانو څخه ګڼل کیږي.

هغه لومړنۍ زده کړې له ______ پلار څخه کړې وي.

د چوکاټ په کلمو لاندینې تش ځایونه ډک کړی.

| سپارل، وکړې، کړی، لاړ، وکړل، ښخ شو |
|---|

سیدجمال الدین افغان په ترکیه کې وفات او هلته ______.

سیدجمال الدین افغان د لوړو زده کړو له پاره هند ته ______

سیدجمال الدین افغان تابوت په کابل پوهنتون کې خاورو ته و ______ شو.

سیدجمال الدین افغان هیواد او دین ته خدمتونه ______.

سیدجمال الدین افغان یورپ او غربی نړۍ ته سفرونه ______.

سیدجمال الدین افغان لومړنۍ زده کړې له خپل مهربان پلار څخه ______.

لاندې مفردو کلمو ته جمع ولیکئ.

کوده: ____________

کلوله: ____________

زاړه: ____________

غشی: ____________

لاس: ____________

په لاندینیو کلمو د جملو پای بشپړ کړئ.

| |
|---|
| دی، وتړل، ورکړه، نه کړه، وویل، وی، ماته نه کړه |

دا یو روښانه حقیقت ________ .

یوه زاړه سړي د ځنکدن په وخت کې یو څو غشي ________ .

زامنو ته یې د ماتولو له پاره ________ .

هیڅ یوه دا کوده ________ .

هو څومره زور یې چې پرې وکړ ماته یې ________ .

غشی یې یو یو ، مات کړ او زامنو ته یې ________ .

که حقیقت ووایم؛ نو ستاسې حال به د غشې ________ .

د چوکاټ له کلمو څخه د جملو تش ځایونه ډک کړئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| یخو | تازه | رنې | مینه | یووالی |

زمونږ د کلي ویاله له ____اوبو څخه ډکه ده.

مور له خپل باغ څخه ____ مېوې راوړو او خوروېې.

د کلي په لښتېو کې ____ اوبه بهیږي.

د کلیوالو تر منځ ____ ځکه ډېره وي ، چې یو له بل سره په کارونو کې مرسته کوي.

د ګډ هدف له پاره په ګډه کار کول د ____ سبب کیږي.

لاندې نیمګړې جملې د چوکاټ په فعلونو بشپړې کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| څښنم | ورکړې | وخوړل |

زه هر سهار یو ګېلاس شیدې ______ .

یوه کاسه مستې مې خپل ګاونډي ته ______ .

مونږ نن سهار له چای سره کوچ ______ .

له چوکاټ څخه په مؤنثو او مذکرو نومونو د جملو تش ځایونه ډک کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تورپیکۍ | نجیبه | منګی | زرغونه | غوټۍ | زیارت |

_____ او _____ له خپلو منګیو سره چینې ته ولاړې.

د بر کلي _____ او _____ هم په لاره کې ورسره ملګرې شوې.

خور مې _____ مات کړ.

زه د _____ په ورغ کورته ځم .

جملې په مناسبو ادواتو (تورو) سره پوره کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تر | په | د | کی | او | څخه |

زلمیانو ډوډۍ وخوړله _____ تر لمانځه وروسته یې _____ مازیګره پورې

_____ پټو _____ راز راز سابه وکرل ، جهانګیر خان _____ توریېکۍ له

مشورې _____ ډېر خوښ و .

د جملو تش ځایونه په ورکړ شویو کلمو ډک کړئ .

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| سیندونه | شګو | کبان | ښکاریان | ځایونه |

د کونړ سیند ډېر زیات _____ لري.

د کونړ سیند د برښنا د تولید او د مځکو د خړوبولو لپاره د بندونو جوړولو ښه _____ لري.

د کونړ د سیند غاړې ته ډله ډله _____ د کبانو د ښکار له پاره راځي.

د کونړ د سیند په _____ کې سره زر شته .

د کونړ له سیند سره د کامدیش او پیچ دري _____ یو ځای شوی .

مفردې کلمې مخامخ ته جمع کلمې ولیکئ .

سیند: سیندونه

ډله: ____

مځکه: ____

بند: ____

غونډوسکې: ____

کلوله: ____

غلیم: ____

فریاد : ____

توپ: ____

د جملو تش ځایونه د چوکاټ په مناسبو فعلونو ډک کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تیریدم، | ودریدم | ولویدلې | ونیولې | وکړ | ورکړې | کاندي |

زه یوه ورځ پر لاره ______ .

زه تر بوې ونې لاندې ______ .

مرغۍ د غونډوسکې غوندې لاندې _____ .

ښشو دواړه مرغۍ غبرګې ______ .

مرغیو ډېر چغ و پغ ______ .

نفاق دواړه مرغۍ د بلا په خوله کې _____ .

که څوک له خپل ورور سره اختلاف _____ .

د ادواتو (تورو) په مناسب استعمال سره لاندې جملې بشپړې کړئ.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| او | له | د | چې | ته | او | څخه | چی |

الفت مور _____ بلنه راکوي _____ علم زده کړو ، _____ عمل ورباندې

وکړو : دی وایي : ______ بې عمله علم _____غلطې پوهې مثال لري

_____ غلطه پوهه _____ انسان _____ شیطان جوړوي.

د لاندی جملو خالی ځایونه د ورکړ شوو کلمو په مرسته ډک کړئ .

| دوی - دا - ما - ته - هغه - تا - ده - زه - تاسو |
|---|

| | |
|---|---|
| دا حج ته ځي. | ____ حج ته ولاړ. |
| ___ حج وکړه. | ____ حج ونکړ مگر ما وکړ. |
| ___ حج ته ځم. | ____ حج نه دی کړی. |
| ___ حج وکړ. | ____ سړی حج ته ځي. |
| ___ حج ته ځي . | ____ کله حج ته ځي. |
| ___ حج ونه کړ . | ____ حج ته نه ځي. |

د مفردو جملو جمع ولیکئ.

| | |
|---|---|
| هغه حج وکړه . | هغوی حج وکړ . |
| ما حج نه دی کړی. | ____ حج نه دی کړی . |
| تا حج وکړ . | ____ حج وکړ. |
| ده حج ونکړ | ____ حج ونکړ. |
| هغی حج وکړ. | ____ حج وکړ. |

د لاندېنېو جملو تش ځايونه د چوکاټ په مناسبو کلمو ډک کړئ:

دی، ده

دا ونه ________.

دا لرگی ________.

جلغوزی، گورگوره

دا ________ ده.

دا ________ دي.

د لاندېنيو جملو تش ځايونه په مناسبو نومونو ډک کړئ:

رمه، رمې

دا ________ روانه ده.

دا ________ رواني دي.

کان، کانونه

دا ________ دی.

دا ________ دي.

شرمښ، شرمښان

دا ________ دی.

دا ________ دي.

لاندې مفرد نومونه په جمع بدل کړئ:

| جمع | مفرد | جمع | مفرد |
| --- | --- | --- | --- |
| ونې | - ونه | ______ | - گورگوره |
| زمري | - زمری | ______ | - ړوند |
| ______ | - شرمښ | ______ | - لاس |
| ______ | - تېږه | ______ | - زرگر |
| ______ | - خوږ | ______ | - غوا |

لاندېني جمع نومونه پر مفرد واړوئ !

| جمع | مفرد |
| --- | --- |
| خوږونه: | خوږ |
| چېښې: | ______ |
| غرونه: | ______ |
| ښکاریان: | ______ |
| گېدړان: | ______ |
| بازونه: | ______ |

په لاندېنيو جملو کې مفرد اسمونه او فعلونه په جمع او جمع اسمونه او فعلونه پر مفرد واړوئ :

جمع دا غرونه لوړ دي.

مفرد ---------------------

مفرد دا زرکه ښه ده.

جمع ---------------------

جمع غرڅه په غره کې ګرځي او سړي په هواره مځکه کې.

مفرد ---------------------

د لاندېنيو جملو په تشو ځايونو کې د چوکاټ له کلمو څخه مناسبه کلمه ولیکئ !

| ځنګلونه، | مرغان، | چينې، | لرګي، | حيوانات، | نښتر |
|---|---|---|---|---|---|

شپون په غرونو کې ——— څروي.

ځينې غرونه ګڼ ——— لري.

ځينې ——— په غرونو کې ژوند کوي.

د غر د ——— اوبه ډېرې ښخې دي.

زموږ د کلي خلک له غرونو څخه ———، مېوې، او بوټي د خپلو اړتياوو د پوره کولو له پاره راوړي.

د غرونو په ونو کې ——— تر نورو ونو لوې دی.

د جملو تش ځایونه له چوکات څخه په مناسبو ضمیرونه ډک کړئ!

زه، هغوی، هغه، دا ، دی، تر، تاسی، دوی، موږ، هغه، هغوی، دوی

مثال: ___زه___ زده کونکی یم. ---- زده کوونکي يو.

---- زده کوونکی يې. ---- زده کوونکي يئ.

---- زده کوونکی دی. ---- زده کوونکي دي.

---- زده کوونکې ده. ---- زده کوونکې دي.

---- زده کوونکی دی. ---- زده کوونکي دي.

---- زده کوونکې ده. ---- زده کوونکې دي.

د لاندېنیو جملو تش ځایونه د چوکات څخه په مناسبو ضمېرونو ډک کړئ!

زه، موږ، ته، تاسې، دی، دا ، دوی، هغه، هغوی

_____ مکتب ته ځم.

_____ خپل پلار ته لیک لیکلای شې.

_____ ښوونکې ده.

_____ لایق شاگردان دي.

_____ ټولگي ته ځو.

- ـــــــ د ښوونکي خبرې په غور سره اوري.

ـــــــ له خپل ښوونکي څخه پوښتنې کوي.

ـــــــ کورني کارونه کوئ.

ـــــــ کتاب لولې.

ـــــــ اخبار لولي.

د تېرې زمانې په متعدي فعل کې شخصي ضميرونو استعمال کړئ!

| | |
|---|---|
| - ما چوکۍ راوړه. | - موږ چوکۍ راوړې. |
| - تا چوکۍ راوړه. | - تاسې چوکۍ راوړې. |
| - ده چوکۍ راوړه. | - دوی چوکۍ راوړې. |
| - دې چوکۍ راوړه. | - دوی چوکۍ راوړې. |
| - هغه چوګۍ راوړه. | - هغوی چوکۍ راوړې. |
| - هغې چوکۍ راوړه. | - هغوی چوکۍ راوړې. |

د لاندېنیو جملو په تشو ځایونو کې مناسب ضميرونه ولیکئ:

تا، دوی، تاسې، دی، هغوی

ما امتحان ورکړ، خو ـــــــ ورنه کړ.

موږ ښوونځی ته لاړو خو ـــــــ رانغلې.

ده پنسل واخیست او ______ قلمونه واخیستل.

______ کتابچه واخیسته او دوی کتابچې واخیستې.

هغه خپل سرمعلم نه پېژني، خو ______ یې پېژني.

په لاندېنې جملو کې د مونث او مذکر اسمونه د پاره د چوکاټ څخه مناسب صفتونه انتخاب او د جملو په تش ځایونو کې ولیکئ.

| سور، سره، زېړه، پاخه، خوږې، خوږه، پوخ، ژېړ |
|---|

- دا انار ---- دی.
- دا ختکی ---- دی.
- دا توت ---- دی.
- دا کېله ---- ده.
- دا منه ---- ده.
- دا آلوچه ---- ده.
- دا توتان ---- دي.
- دا کېلې ---- دي.

د لاندېنيو جملو په تشو ځايونو کې مناسب صفتونه ولیکئ:

| |
|---|
| کلک، وړې، ښه، خواږه، سره |

د کندهار انګور ______ دي او انار يې سور رنګ لري.

______ ختيکي په کندز کې او تازه ناک په تګاب کې ډېر پېدا کېږي.

د لوګر منې ډېرې غټې او د نورستان ______ دي.

د خنجان دره سره توتان او ______ شفتالان لري.

د چارمغز پوستکی ______ وي او د پوټکی نازک وي.

ستا په لاس کی ______ منه ده او زما په لاس کې زېړه ده.

د لاندېنې جملې تش ځايونه د فعلونو د ورکړ شويو حالتونه په اساس د چوکاټ د فعلونو څخه ډک کړئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| کري | وکري | وکرل | کرلي دي | کرلي وو | کرل |

بزګر غنم ------ . (حال)

بزګر به غنم ------ . (راتلونکی)

بزګر غنم ------ . (مطلقه ماضی)

بزګر غنم ------ . (نژدې ماضي)

بزګر غنم ------ . (لرې ماضي)

بزګر غنم ------ . (استمراري ماضي)

د ماضي (تېرې) زمانې فعلونه گردان کړی !

ډوډي خوړل

- احمد ډوډی خوري. ( حال )

- احمد ډوډی وخوړه. (مطلقه، تېره زمانه)

- احمد ډوډی خوړلې وه. (لرې، تېره زمانه)

د لاندېنې جملې تش ځایونه په مناسبو قېدونو ډکې کړئ:

مکتب، پرون، کور، ښوونځی، نن، سهار

ز ه په نوي بایسکل ______ ته ځم.

زه پرون په موټر کې راغلم.

- زه ______ امتحان ورکوم.

- آمنه په خپل ______ کې اول نمره شو.

- زه ______ وختي پاڅېږم.

- زه پروسږ کال په زاړه ______ کې اوسېدم.

د لاندېنیو جملو تش ځایونه په مناسبو ادواتو ډک کړئ:

سره، څخه، کی، او، هم

زه ______ احمد دواړه په آزموینه ______ بریالي شو. احمد له خپل مشر ورور ______ کمک کړی وو. ما له خپل کتاب ______ زده کړه کړې وه. زموږ په بریالیتوب ښوونکی ______ خوښ شو.

# پنځم ټولګی
## پښتو

### املا:

لاندې جملې په سمو کلمو بشپړې کړئ؟

نوروز د پسرلي د پیل ____ ګڼل کیږي.

ورز - ورغ - ورض

خلک د خپل ____ په اندازه په نوروز کې نوې کالي اغوندي.

وس - وص - وث

پسرلی د کال لومړی ____ دی .

فسل - فصل - فثل

سمې کلمې د جملو په تشو ځایو کې ولیکئ ؟

الفت صاحب یو عالم او ____ انسان وو.

فاضل- فاز- لفائل

الفت صاحب د زده کړې په دوران ډېر ذکي او ____ و .

اوښیار- هوښیار- اوخیار

الفت صاحب یو ښه ____ و .

شاعېر، شاېر، شاعر

## ډوډۍ

زموږ د کلي ګل احمد کاکا هره ورځ شيدې او مستې د خرڅولو له پاره بازار ته وړي او په پېسو يې کورته ډوډۍ راوړي. د ګل احمد کاکا زوی نجيب يوی ورځ ترې خلۍ وغوښتله ، پلار ورته ووېل چې تاسې خپل کار کوئ، زه به خلۍ درته راوړم .

د لاندې جملو تش ځايونه له درکړ شويو کلمو نه په سمو کلمو ډک کړئ.

پرون د نجيبې ______ وه .

| کوږده ، کوزده ، کوجده |
|---|

زموږ د کلي خلک د چښلو اوبه د ____ له پاره استعمالوي.

| چخاک ، چشاک ، چښاک |
|---|

د نجيبې په کوزده کې به تورپېکۍ دريا تر ____ لاندې راوړي.

| سادر ، څادر ، صادر |
|---|

د لاندې جملو په تشو ځايو کې له ورکړ شويو کلمو څخه سمې کلمې وليکئ؟

په حج کې عربو او عجمو يو شان سپين ______ تړلي وي.

| اهرامونه احرامونه اخرامونه |
|---|

هغه د حج مبارک د ـــــ په باب وویل:

سفر ثفر سافر

د پیغمبر(ص) مبارکې ـــــ ته ورغلو.

روزې روځې روضې

په تشو ځایونو کې سمې کلمې ولیکئ ؟

له کونړ ـــــ سره د کامدیش او پېچ درې سیندونه یو ځای شوي دي .

سین سیند سند

د کونړ سیند کونړ ته خاصه ـــــ وربخښلې ده .

شکلا خکلا ښکلا

د کونړ سیند د بند جوړولو ـــــ ځایونه لري.

مناسب مناصب مناشب

لاندي جملې په سمو کلمو پوره کړئ ؟

د کلي ځوانان د مځکې د کر لپاره ـــــ ته راوبوله .

| | | |
|---|---|---|
| عشر | اشر | حشر |

د غرمې لپاره ئې ښه خوندوره ـــــ تیاره کړې وه.

| | | |
|---|---|---|
| ښوروا | خوروا | خوربا |

د کلي ځوانان بې د اشر له پاره د جمعې په ـــــ راوغوښتل .

| | | |
|---|---|---|
| ورز | ورغ | ورذ |

نیمګړې جملې په کلمو بشپړ کړئ ؟

دوه مرغۍ شوې ـــــ په ونه کې په جنګ.

| | | |
|---|---|---|
| باغ | پاس | پس |

د غونډوسکې ـــــ لاندې ولویدلې .

| | | |
|---|---|---|
| غندې | غوندې | عوندې |

که څوک کاندي ـــــ له خپله وروره.

| | | |
|---|---|---|
| اختلاف | احتلاف | اختلاپ |

د لاندې جملو تش ځایونه په سمو کلمو ډک کړئ؟

پرون د نجیبې ـــــ وه .

| | | |
|---|---|---|
| کوژده | کوزده | کوجده |

زمونږ د کلي خلک د چینو اوبه د ـــــ له پاره استعمالوي.

| | | |
|---|---|---|
| چڅاک | چشاک | څښاک |

د نجیبې په کوژده کې به توریښکې دریا تر ـــــ لاندې راوړي.

| | | |
|---|---|---|
| سادر | څادر | صادر |

د جملو په تشو ځایونو کې ، له دریو درکړ شویو کلمو څخه سمه کلمه ولیکئ .

یوه زاړه سړي د ـــــ په وخت خپلو زامنو ته وویل.

| | | |
|---|---|---|
| زنکدن | ځنکدن | جانکدن |

هغه تجربه کار سړی د ـــــ کوده واخیسته.

| | | |
|---|---|---|
| غنبو | غشو | عنبو |

ای زامنو! که ـــــ ووایم؛ نو ستاسې حال به دغسې وي.

| | | |
|---|---|---|
| اقیقت | حقیقت | حکیکت |

لاندې جملې په سمو کلمو بشپړې کړئ؟

افغانستان یو غرنی ـــــــ دی .

| | | |
|---|---|---|
| وطن | وتن | وتڼ |

دغو غرونو زموږ وطن ـــــــ کړی دی.

| | | |
|---|---|---|
| خکلی | ښکلی | شکلی |

زموږ په هېواد کې ـــــــ ډېر غرونه دي.

| | | |
|---|---|---|
| سومره | څومره | ثومره |

د پښتو خپل توری په نظر کې ونیسئ او لاندې جملې اصلاح کړئ؟

په کوته کې یو روند هلک ناست دی.

دا هلک ډېر حوان و او د بل کوچني کون هلک سره یو ځای و.

د باندې سه رلۍ اوریدله.

روند هلک چې لوح سر د باندې ولاړ، نو پوه شو چې رلۍ ده.

د جملو په تشو ځایو کې سمې کلمې ولیکئ؟

سېد جمال الدین افغان ډېر لوی ـــــــ و .

| | | |
|---|---|---|
| الیم | عالیم | عالم |

د هغه ـــــــ کابل ته راوړل شو .

| | | |
|---|---|---|
| تالبوت | تابوت | طالوت |

هغه هېواد او دین ته ستر ـــــــ کړې دي.

| | | |
|---|---|---|
| خذمتونه | خدمتونه | ښدمتونه |

د جملو په تشو ځایو کې مناسبې کلمې ولیکئ؟

زمونږ گران ______ افغانستان ډېر کانونه لري.

| | | |
|---|---|---|
| هي‌واد | حیواد | هېواد |

افغانستان د تیلو او گاز ______ لري.

| | | |
|---|---|---|
| زېرمې | زېلمې | ځېرمې |

د ډېرو ______ کانونه د هېواد په مرکزی برخه کې پېدا کېږي .

| | | |
|---|---|---|
| سه‌کارو | سکارو | سکرو |

متلونه د استدلال د تایېد له پاره د خبرو اترو په ____ کې ویل کیږي.

| | | |
|---|---|---|
| ترس | ترغ | ترص |

دنیا د پټې مثال لري او د انسان ټول اعمال او کارونه د تخم په ______ دی.

| | | |
|---|---|---|
| ثېبر | سبر | صبر |

که انسان ښه کړې وي، نو ____ به یې هم نېک او ښه وي.

| | | |
|---|---|---|
| حاسل | عاصل | حاصل |

لاندې جملې په سمو کلمو بشپړې کړئ! .

مور جانې! ستا ـــــ پر ما بې اندازې دي.

| | | |
|---|---|---|
| ایسانونه | احسانونه | احصانونه |

مورکۍ جانې! درس ته به دې په ـــــ لېږلم.

| | | |
|---|---|---|
| زاریو | ځاریو | ظاریو |

پر ما ګرانې مورې ! چې لږ درد به د شپې په ـــــ کړم، نو تر سهاره به دې خوب نه و.

| | | |
|---|---|---|
| ځړا | ږړا | ژړا |

# پنځم ټولګی

## پښتو

### انشأ

۱- لاندې جملې په ورکړ شویو لغتونو پوره کړئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| مېرولي | پلار | موټر | پکتیا |
| لاره | غرونه | پوښتنه | ګټه |

______ له خپل _____ سره په ______ کې ______ ته روان و. په ______ کې یې هرې خواته ښکلي او دنګ _____ ولیدل . له خپل پلار څخه یې ______ وکړه : «پلاره! زموږ په وطن کې ، څومره ډېر غرونه دي. دا څه _____ لري؟»

۲- یو پاراګراف ولیکئ او لاندېني لغتونه د چوکاټ څخه پکې راولئ:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| افغانستان، | وطن، | ډېره برخه، | ښکلي، | ښه، | په زړه پوری | دي |

د لاندي پوښتنو په ځواب کې هو وړوکی پراګراف ولیکئ؟

په افغانستان کې نوروز په کومه نېټه شروع کېږي ؟

د نوروز په ورځ خلک څه رنګه کالي اغوندي؟

د نوروز په ورځ خلک چېرې ځي؟

پرګراف په ورکړ شویو کلمو پوره کړئ او مناسبې کلمې په خپلو ځایو کې ولیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ذکی | انسان | علمونه | ګران |

ګل پاچا الفت هو عالم او فاضل ــــــ د خپل وخت ــــــ یې حاصل کړي وو . دی د زده کړې په دوران کې ډېر ــــــ او هوښیار و . نو په استادانو ډېر ــــــ و .

پرګراف په ورکړ شویو کلمو پوره کړئ او مناسبه کلمې په خپلو ځایو کې ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| خبره، | سهار، | جمعی |

جهانګیر خان د خپلي ماندیني ---- ومنله او د کلي زلمیان یي د ---- په ورځ د اشر له پاره راوغوښتل. په خپله جهانګیر خان او نورو زلمیانو ---- وختي دَ مځکې په اړولو پیل وکړ.



دپنځم ټولګي پښتو.

د لاندې پوښتنو له ځوابونو څخه يو پراګراف جوړ کړئ؟ .

حج د اسلام څوومه بنا ده؟

مسلمانان د حج له پاره چېرې ځي؟

حاجيان په حج کې څه ډول لباس اغوندي؟

له کوم ځای نه طواف کوی؟

عرفات ته په کومه ورځ ورځې؟

څه شی په کانو ولی؟

لاندې بې ترتيبه جملې په ترتيب وليکئ؟

- کمې وي په کلي کې لوګي او دوړې.
- نو تازه وي هوا لږ څه.
- بهيرې ويالې پکې ډکې د يخو اوبو.
- رڼې اوبه روانې وي په سيندونو او لښتيو کې.

د مور په هکله د لاندې پوښتنو له مخې يو کوچنی پراګراف وليکئ؟

- مور ولې د ماشومانو له پاره ډېره ارزښتمنه ده؟
- د خبرو طريقه يې څنګه ورښووله؟
- ګرځيدو طريقه يې څنګه ورښووله؟
- ښوونځي ته يې څنګه ليږلې؟
- او د روغتيا د ساتلو په اړه به يې څه کول؟

د لاندی پوښتنو په ځوابونو سره د افغانستان د کانونو په باره کې یو کوچنی پراگراف ولیکئ ؟

- په افغانستان کې د څه شي کانونه پیدا کیږي؟
- کانونه وطن ته څه گټې لري؟
- تاسی کوم کان پیژنئ؟

د پراگراف تش ځایونه د چوکاټ په مناسبو کلمو بشپړ کړئ.

| عالم، ستر، نړۍ، افغانستان، ترکیه، دفن |
|---|

سید جمال الدین افغان ډېر لوی ----- او ----- له مشهورو خلکو څخه و او ----- خدمتونه یې کړي دي. هغه اروپا او عربی ----- ته هم سفرونه کړي دي. په ۱۸۹۷ م کال په ----- کې وفات او هلته ----- شو.

لاندې بې ترتیبه جملې په ترتیب کړئ او په یوه پراگراف کې یې سم شکل ولیکئ؟

---- ای زامنو! که حقیقت ووایم.
---- که مو په خپل منځ کې اتحاد او اتفاق درلوده.
---- نو ستاسې حال به دغسې وي.
---- که مو دښمني او بې اتفاقي وکړه.
---- هېڅ قوي لاس به په تاسې بر نه وي.
---- د دښمن یو ضعیف لاس به تاسې ماتوي.

لاندې بې ترتیبه جملې په ترتیب په یوه پراګراف کې ولیکئ؟

---- په ونه کې په جنګ شوې دوه مرغۍ.

---- لاندې ولویدلې د غونډوسکې غونډې دواړه.

---- ویې کړ چغ ویغ شور او فریاد ډېر.

---- خو وخت ځنې تیر و او څه نه کیدل.

د بې ترتیبه کلمې څخه مرتبې جملې جوړې کړې!

- دی برکت په چښو د وطن کې.

- وي اوبه سړې په اوړي کې.

- وي اوبه تودې په ژمي کې.

لاندنې بې ترتیبه جملې د نومرې په ورکولو سره داسې په ترتیب کړئ چې د عنوان مطابق یو با معنا پراګراف ترې جوړ شي.

---- په پښتو ژبه کې ټول ځلویښت توري استعمالیږي.

---- اته توري د پښتو ژبې خاص توري دي.

---- چې د هغې له جملې څخه ۲۲ توري د پښتو او دري تر منځ مشترک دي.

---- چې په دري او عربي کې استعمال نه لري.

د لاندي سوالونو له ځوابونو څخه یوه پراګراف جوړ کړئ.

- یو متل ولیکئ.
- د متل مفهوم هم ولیکئ.
- متل خلک د څه د پاره وایي؟

unicef

Save the Children

**Supported and coordinated by UNICEF and Save the Children (USA)**

Printed at Intol Printing and Packaging